د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحليل هفته

**ګڼه: 487**

(20 - 27 اسد 1404 هـ ش)

## د متحده ايالاتو او هند سوداګريزه جګړه او پر سيمه يې اغېزې



**دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

## په دې ګڼه کې لولئ:

د متحده ایالاتو او هند سوداګریزه جګړه او پر سیمه یې اغېزې.................................................3
د هند او متحده ایالاتو ترمنځ د سوداګریزې جګړې مخینه ......................................................3
پر هند د متحده ایالاتو له لوري د تعرفې د لوړولو لاملونه .......................................................5
پر سیمه یې اغېزې ..........................................................................................7
پایله ...................................................................................................9
سرچینې ...............................................................................................9

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د متحده ایالاتو او هند سوداګریزه جګړه او پر سیمه یې اغېزې

### سریزه

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د متحده ایالاتو او شوروي اتحاد ترمنځ سړه جګړه پیل شوه او په دغه جګړه کې هند د متحده ایالاتو خلاف له شوروي اتحاد سره ولاړ و، تر دې چې پر افغانستان د شوروي اتحاد د برید پرمهال هند د مجاهدینو په مقابل کې پر افغانستان د شوروي اتحاد له برید څخه ملاتړ وکړ. په دغه دوره کې پاکستان بیا له متحده ایالاتو سره د دوستې تړون درلود[1] او په افغانستان کې یې د شوروي اتحاد پر وړاندې له مجاهدینو ملاتړ کاوه. په سیمه کې متحده ایالاتو له پاکستان سره په دې موخه اړیکې نږدې کړې او اقتصادي او پوځي مرستې یې ورسره کولې ترڅو د شوروي اتحاد په مقابل کې یې له ځان سره ودروي او د پاکستان له لارې په افغانستان کې شوروي اتحاد ته ماتې ورکړي. کله چې سړه جګړه پای ته ورسېده او متحده ایالاتو نور پاکستان ته اړتیا نه درلوده، نو هند ته یې مخه کړه تر څو د هند له لوی سوداګریز مارکیټ څخه د اقتصادي موخو لپاره ګټه واخلي، یعنې له ۱۹۹۱ز. کال وروسته د هند او متحده ایالاتو په اړیکو کې نږدیوالی پیل شو، خو په ۱۹۹۸ز. کال کې کله چې د هند له لوري اتومي وسله جوړه شوه، نو دغه اړیکې یو ځل بیا سړې شوې او متحده ایالاتو پر هند بندیزونه ولګول، خو کله چې د سپتمبر یوولسمې پېښه وشوه او متحده ایالاتو پرېکړه وکړه چې پر افغانستان برید وکړي، نو په دغه سیمه کې یې د پاکستان او د هند د ملاتړ لپاره له دغو هېوادونو بندیزونه لرې کړل او د هند او متحده ایالاتو اړیکې عادي حالت ته راغلې او دغه عادي اړیکې هغه مهال په ملګرتیا بدلې شوې کله چې دواړو هېوادونو په ۲۰۰۵ز. کال د جولای په میاشت کې د ستراتیژیکې ملګرتیا تړون لاسلیک کړ.[2] له دغه تړون وروسته دواړو هېوادونو له یو بل سره نږدې اړیکې پاللې او ان متحده ایالاتو په سیمه کې د چین پر خلاف هند خپل متحد ګڼې، خو د ۲۰۲۵ز. کال په اګست میاشت کې د متحده ایالاتو ولسمشر ټرمپ له دې امله پر هند سوداګریزه تعرفه لوړه کړه چې هند له روسیې څخه تیل اخلي او روسیه بیا پر دغو پیسو په اوکراین کې جګړه کوي، د دغې تعرفې له لوړولو وروسته د هند لومړی وزیر نریندر مودي پریکړه وکړه چې چین ته به سفر وکړي او د شانګهای همکاری سازمان په غونډه کې به برخه واخلي، که دا سفر ترسره شي، نو دا به په تېرو اوو کالو کې لومړی ځل وي چې مودي چین ته سفر کوي. له دې وروسته متحده ایالاتو پر هند تعرفه له ۲۵ سلنې څخه ۵۰ سلنې ته لوړه کړه او دې کړنې د هند او متحده ایالاتو ترمنځ اړیکې ترینګلې کړې. په دغه تحلیل کې به پر هند د متحده ایالاتو له لوري د تعرفې د لوړولو پر لاملونو، د دواړو هېوادونو د سوداګریزې جګړې پر مخینې، پر دوه اړخیزو اړیکو د دغې جګړې پر اغېزو او په پای کې به پر سیمه د دغو خرابو اړیکو پر اغېزو بحث وشي.

### د هند او متحده ایالاتو ترمنځ د سوداګریزې جګړې مخینه



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ۲۰۲۴ز. کال د شمېرو پر بنسټ هند د متحده ایالاتو لپاره لسم او متحده ایالات د هند لپاره لومړنی سوداګریز شریک دی، د دواړو هېوادونو ترمنځ دوه اړخیزه سوداګري په کلني ډول ۱۲۹٫۲ میلیارده ډالرو ته رسیږي.[3]

Largest trading partner for India


| | | |
|---|---|---|
| **1.** | **US** | **$119.7B** |
| 2. | China | $118.4B |
| 3. | United Arab Emirates | $83.7B |
| 4. | Russia | $65.4B |
| 5. | Saudi Arabia | $43.0B |
| 6. | Singapore | $35.6B |
| 7. | Iraq | $33.3B |
| 8. | Indonesia | $29.4B |
| 9. | Hong Kong | $28.7B |
| 10. | South Korea | $27.6B |

Largest trading partner for US

| | | |
|---|---|---|
| 1. | Mexico | $839.9B |
| 2. | Canada | $762.1B |
| 3. | China | $582.5B |
| 4. | Germany | $236.0B |
| 5. | Japan | $227.9B |
| 6. | South Korea | $197.1B |
| 7. | Taiwan | $158.6B |
| 8. | Vietnam | $149.7B |
| 9. | UK | $148.0B |
| **10.** | **India** | **$129.2B** |

**یادونه:** د هند سوداګریزه ډېټا د ۲۰۲۳ز. کال او د متحده ایالاتو د ۲۰۲۴ز. کال ده، له همدې امله په شمېرو کې توپیر موجود دی.

د ۲۰۲۳ز. کال د شمېرو پر بنسټ متحده ایالات د ۴۷ میلیارده ډالرو په ارزښت توکي له هند څخه واردوي په دغه توکو کې نیمه قیمتي ډبرې، الکترونکي وسایل، طبي توکي، اتومي ریکټورونه او ماشینونه او د سونګ توکي او تېل شامل دي.




د هند او متحده ایالاتو ترمنځ سوداګریزه جګړه په لومړي ځل په فبروري ۲۰۱۸ ز. کال کې هغه مهال پیل شوه، کله چې ټرمپ د هند له لوري پر امریکایي هارلي ډېوېډسن موټرسایکلونو د لوړې تعرفې له امله نیوکه وکړه او هغه یې ناعادلانه وبلله. هند پر دغه موټر سایکلونو تر ۱۰۰ سلنې پورې تعرفې لګولې وه، په داسې حال کې چې متحده ایالاتو د هندي پر بایسکلونو صفر سلنه تعرفې لګولې وه.

په ۲۰۱۸ز. کال د مارچ په میاشت کې ټرمپ پر هندي فولادو او المونیمو ۲۵ سلنه تعرف ولګوه او دا یې د خپلې پراخې سوداګریزې اجنډا برخه وګڼله، له دې وروسته یې په ۲۰۱۹ز. کال د مارچ په میاشت کې یې Generalized System of Preferences (GSP) تر چتر لاندې د هند ځانګړې امتیازات پای ته ورسول، د دې سیستم لاندې متحده ایالات ځینو هېوادونو ته د دې امتیاز ورکوي چې د هغوی ځینې توکي پرته له

تعرفې متحده ایالاتو ته داخل شي، کله چې متحده ایالاتو د هند دغه امتیاز لغوه کړل، نو امله یې د هندي صادراتو نږدې ۵٫۸ میلیارده ډالره ارزښت لرونکي توکي له دې معافیت څخه بې برخې شول[4] چې دا د هند لپاره ستر زیان و.

د دغې سوداګریزې جګړې په دوام ټرمپ تازه د ۲۰۲۵ز. کال د جولای پر دېرشمه نېټه پر هندي توکو ۲۵ سلنه تعرفه لوړه کړه او په دوام یې د دغه کال د اګست پر ٦مه نېټه یې دغه تعرفه ۵۰ سلنې ته لوړه کړه.


## پر هند د متحده ایالاتو له لوري د تعرفې د لوړولو لاملونه

د متحده ایالاتو له لوري پر هند د تعرفې لوړول ځینې لاملونه لري چې دلته پرې لنډ بحث کوو.

### ۱- د هند له لوري له روسیې څخه د تېلو پېرل

په ۲۰۲۴ز. کال کې هند او روسیې ٦٦ میلیارده ډالره دوه اړخیزه سوداګري لرله او دواړو لوریو هوکړه کړې چې تر ۲۰۳۰ز. کال پورې به دوه اړخیزه سوداګري تر ۱۰۰ میلیارده ډالرو پورې پورته کړي.[5] د رویټرز د راپور پر بنسټ، هند د روسیې د خامو تیلو تر ټولو لوی پېرودونکی هېواد دی، چې د روان ۲۰۲۵ز. کال د جنورۍ څخه تر جون میاشت پورې هر ورځ نږدې ۱٫۷۵ میلیونه بېرله تیل وارد کړي دي، چې دا د تېر کال په پرتله ۱ سلنه زیاتوالی ښیي. په ټوله کې د ۲۰۲۴. کال د مارچ میاشتې څخه تر ۲۰۲۵ز. کال د مارچ تر میاشتې پورې هند له روسیې څخه ۵۱٫٦۱ میلیارده ډالرو په ارزښت تیل پېرلي دي. هند په نړۍ کې د تېلو درېیم لوی واردوونکی او مصرفوونکی هېواد دی چې د خپل اړتیا وړ ۳۵ سلنه تیل له روسیې څخه پېري.

د اوکراین د جګړې له پیل راهیسې په ځانګړې ډول د ۲۰۲۳ز. کال د جنورۍ میاشتې څخه تر ۲۰۲۵ز. کال د جولای میاشتې پورې هند له روسیې څخه د ۱۱۹٫۳ میلیارده ډالرو په ارزښت تیل پېرلي دي چې په ټوله نړۍ کې له روسیې څخه د تېلو پېرلو له اړخه دویم ستر هیواد دی.[6]




for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د متحده ایالاتو له لوري پر هند تعرفې د لوړلو یو لامل د هند له لوري د روسيې څخه په دومره لوړه کچه د تېلو پېرل دي، ټرمپ په دې باور دی چې هند دغه تېل یوازې د خپلې اړتیا لپاره نه اخلي بلکې دا په نورو نړیوالو مارکیټونو کې پلوري او ګټه پرې کړي او د هند پر دغو پېسو بیا روسیه په اوکراین کې جګړه کوي.

ټرمپ په خپل Truth Social صفحه کې لیکلي: هند نه یوازې د روسيې د تیلو ستره برخه پېري، بلکې په نړیوال بازار کې هغه په لوړه ګټه پلوري، هند ته بې تفاوته ده چې په اوکراین کې د روسيې د جګړې له ماشين څخه څومره خلک وژل کېږي. له همدې امله، زه متحده ایالاتو ته د هند پر را واردېدونکې توکو تعرفه لوړوم.[7]

د ټرمپ له دې خبرو په ډاګه معلومېږي چې پر هند تعرفې د لوړولو یوه لامل د هند له لوري د روسي تېلو پېرل دي.

### ۲- د سوداګریزو مذاکراتو ناکامېدل

کله چې ټرمپ د دويم ځل لپاره د متحده ایالاتو ولسمشر شو، نو په ۲۰۲۵ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې نریندر مودي واشنګټن ته په رسمي سفر لاړ، د دغه سفر پرمهال دواړو لوریو هوکړه وکړه چې تر ۲۰۳۰ز. کال پورې به دوه اړخیزه سوداګري تر ۵۰۰ میلیارده ډالرو پورته کوي او په دې هوکړه وشوه چې د دغې سوداګرۍ او اړونده تعرفو د تنظیم لپاره به مذاکرات پیلوي. د ۲۰۲۵ز. کال د مارچ او جولای په میاشتو کې د هند او متحده ایالاتو استازو پنځه دوره مذاکرات وکړل[8] په اوایلو کې داسې معلومېده چې کېدای شي دواړه لوري پر ۱۵ سلنه تعرفې هوکړه وکړي، خو د ټرمپ له لوري ځینې ځانګړې غوښتنې د تعرفې د کمولو په برخه کې د هند له لوري ونه منل شوې او هماغه وو چې مذاکرات بریالي نشول او ټرمپ پر هند لومړی ۲۵ سلنه او بیا يې ۵۰ سلنه تعرفه ولګوله.

### ۳- پر هند د فشار وسیله

په اوسني بین المللي نظام کې هند هم له سترو قدرتونو څخه ګڼل کېږي او د شوروي اتحاد له وخت څخه د روسيې قوي ملګری پاتې شوی دی. هند غواړي چې د روسيې او متحده ایالاتو ترمنځ په اړیکو کې توازن وساتي او روسیه له لاسه ورنکړي، ځکه د پاکستان په قضیه کې متحده ایالات د هند لپاره د باور وړ ملګری نه دی، ځکه له تاریخي اړخه يې څو ځلې هند غاړې ته کړی او له پاکستان سره يې اړیکې نږدې کړې دي. متحده ایالات غواړي چې د دغه تعرفو له لارې پر هند فشار راوړي تر څو له یوې خوا له روسيې سره خپلې اړیکې د متحده ایالاتو د بهرنۍ پالیسۍ په چوکاټ کې تنظیم کړي، له بلې خوا له ایران سره سوداګریزې اړیکې کمې کړي او تر ټولو مهم فشار له هند سره د سوداګریزو مذاکراتو په برخه کې دی، ټرمپ تل د مذاکراتو پرمهال په مقابل اړخ فشار راوړی تر څو په مذاکراتو کې برلاسی اوسي او لاسته راوړنې ولري، نو متحده ایالات غواړي چې د دغو تعرفو له لارې پر هند فشار راوړي تر څو په سوداګریزو مذاکراتو کې د متحده ایالاتو غوښتنې

ومني، خو دا خبره هم د يادولو وړ ده چې کېدای شي د متحده ایالاتو دغه تعرفې او فشارونه د محدود وخت لپاره وي، ځکه متحده ایالات نه غواړي چې د چين په مقابل کې داسې ستر متحد له لاسه ورکړي او هند به هم د متحده ایالاتو د دريځ له نرمېدو سره خپل دريځ بېرته را نرم کړي ځکه هند هم نه غواړي چې د متحده ایالاتو په څېر ستر قدرت له لاسه ورکړي.

## پر سيمه يې اغېزې

د متحده ایالاتو ولسمشر ټرمپ د خپلې دويمې دورې پرمهال په بهرنيو سياست کې د تعرفو د لوړولو سياست ته مخه کړه او تقريباً په نړۍ کې هيڅ هېواد د ده د تعرفو څخه خوندي پاتې نشو. په جنوبي اسيا کې هم ټرمپ پر پاکستان، بنګله دېش او هند د تعرفو لوړولو اعلان وکړ، خو پاکستان او بنګله دېش د ګمرکي تعرفو د خبرو اترو پر مهال د خپلو اقتصادي کمزورتياوو او پراخو ستراتيژيکو ګټو څخه ښه خبر وو. پاکستان او بنګله دېش ډېر محتاط وو او هر يو د امريکا متحده ایالاتو سره د خپلو دوه اړخيزو اړيکو د راتلونکي په اړه انديښمن وو. له همدې امله يې د ټرمپ تعرفې ومنلې او د سوداګرۍ په برخه کې د تعديلاتو منلو ته تيار شول، تر څو د امريکا متحده ایالاتو سره خپلې اړيکې وساتي او دغه اړيکې لا قوي کړي.

د ټرمپ د تعرفو په برخه کې پاکستان تر ټولو ډېر برياليٰ ښکاري، د ټرمپ د سوداګرۍ د پلان د عملي کولو او نورو سوداګريزو اړيکو د پراخولو په موخه د دغه هېواد د پوځ مشر عاصم منير متحده ایالاتو ته سفر وکړ او له ټرمپ سره له غرمنۍ وروسته يې له نوموړي سره خبرې اترې برياليې وبللې او د سوداګرۍ او تعرفو په برخه کې يې د ټرمپ ټولې خبرې د راتلونکو ښو اړيکو لپاره ومنلې.

بنګله دېش هم په لومړي سر کې د ۳۷ سلنه تعرفې سره مخامخ شو، چې متحده ایالاتو ته د دې هېواد د ۸,۳ ميلياره ډالرو د صادراتو پر وړاندې يې جدي ګواښ رامنځته کړ، خو بنګله دېش د متحده ایالاتو سره د ښو اړيکو د جوړېدو او يا هم د اړيکو د خرابېدو د مخنيوي په موخه دغه تعرفې ومنلې او سوداګريز اصلاحات يې پيل کړل، چې له امله يې ټرمپ پر دغه هېواد خپله ۳۷ سلنه تعرفه ۲۰ سلنې ته راښکته کړه او بنګه دېش هم د دغو تعرفو څخه برياليٰ راووت، خو کله چې متحده ایالاتو پر هند تعرفې ولګولې او دليل له روسيې څخه د تېلو پېرل وښودل، نو د هند لومړي وزير نريندر مودي اعلان وکړ چې دوی به د خپلو ملي ګټو په چوکاټ کې عمل وکړي او له روسيې څخه د تېلو پېرلو ته به دوام ورکړي چې د مودي د دې غبرګون له امله د هند او متحده ایالاتو اړيکې د خرابۍ پر لور رواني شوې.

دا چې سوداګريزې جګړې تر ډېره دوام نه کوي او ډېر ژر بېرته عادي حالت ته راځي، نو د دې امکان شته چې متحده ایالات د هند سره دغه سوداګريزه جګړه ډېر ژر پای ته ورسوي او په جنوبي اسيا کې دغه مهم او قدرتمند متحده له لاسه ورنکړي او بيا چې د ټرمپ سياستونو او پرېکړو ته وګورو، نو دغه سيناريو ډېره عملي



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

ښکاري ځکه ټرمپ تل خپلې پرېکړې ډېر ژر بدلې کړي دي، بل دا چې په منځني ختيځ کې هند د اسراييلو مهم ملګرى او د وسلو سوداګريز شريک دى، نو له دې اړخه به هم متحده ايالات هڅه وکړي چې دغه تعرفې بېرته راټيټې کړي، تر څو هند د متحده ايالاتو سره د اړيکو د خرابېدو له امله ايران ته مخه نه کړي چې دا بيا د چين په مقابل کې متحده ايالاتو ته او د ايران په مقابل کې اسراييلو ته زيان رسوي.

البته دويمه سناريو هم بايد وڅېړو او هغه دا چې ټرمپ له خپلې تعرفې تېر نشي او له هند سره سوداګريزې جګړې ته ادامه ورکړي او دغه اړيکې لا د خرابې لوري ته لاړې شي، نو په داسې حالت کې لاندې قضيې د وړاندوينې وړ دي.

هند په جنوبي اسيا کې د متحده ايالاتو ستر ستراتيژيک ملګرى پاتې شوى دى، له هند څخه متحده ايالات د چين پر خلاف ګټه اخلي او په انډوپسفيک کې پر چينايي ګټې ګواښي، نو د دغې سوداګريزې جګړې لومړنۍ اغېزه به پر سيمه دا وي چې کېداى شي چين او هند سره نږدې کړي چې موږ يې يوه نښه عملاً وليدله، نريندر مودي اعلان وکړ چې له اوو کالو وروسته د چين په سفر ځي او هلته به شانګهاى د همکارۍ سازمان په غونډه کې ګډون وکړي[9] او دا اعلان يې له متحده ايالاتو سره د اړيکو له خرابېدو وروسته وکړ.

دويمه موضوع دا ده چې هند به نور هم روسيې ته نږدې شي او دغه نږديوالى به لومړۍ پر سيمه ييز نظم او بيا پر نړيوال نظام ژور اغېز وکړي، ځکه هند يو داسې قدرت دى چې که د روسيې او متحده ايالاتو په سيالۍ کې هر طرف ته ودرېده هماغه طرف ته تله درنيږي، نو که له متحده ايالاتو سره دغو خرابو اړيکو دوام پيداکړ او ټرمپ شاتګ ونکړ، نو کېداى شي په نړيوال نظم کې ډېر ژر بدلون راشي او متحده ايالات خپله يکه تازي له لاسه ورکړي.

دريیمه قضيه دا ده چې هند تراوسه له ايران سره د متحده ايالاتو د بنديزونو له امله په خلاص لاس اړيکې نشواى ټينګولاى، خو که له متحده ايالاتو سره دغو خرابو اړيکې دوام پيداکړ، نو لرې نه ده چې هند به له ايران سره ژورې اړيکې ټينګې کړي او پر پراخو سيمه ييزو پروژو به سره ګډ کار پيل کړي ځکه ايران هم په سيمه کې د انرژۍ ستر صادرونکى هېواد دى او هند دغې انرژۍ ته اړتيا لري، البته يادونه بايد وکړو چې دغه اړيکې به تر ډېره اقتصادي او سياسي وي او په امنيتي برخه کې به هند هڅه ونکړي چې د اسراييلو په خلاف ايران ته نږدې شي.

څلورمه قضيه په سيمه کې د افغانستان او هند د اړيکو ده. د متحده ايالاتو او هند د اړيکو خرابېدل به په افغانستان کې پر حاکم نظام مثبته اغېزه وکړي، ځکه له متحده ايالاتو څخه د هند راشکېدل او له چين، روسيې او ايران سره نږدې کېدل خپله له اسلامي امارت سره د نږدې کېدو په معنى ده، ځکه روسيې اسلامي امارت په رسميت پېژندلى او په ايران او چين ورسره ډېرې نږدې اړيکې لري، نو دغه هېوادونه به هند هم



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

وهځوي ترڅو له اسلامي امارت سره اړیکې نږدې کړي، سفارت ورته وسپاري او ګډې سیمه ییز پروژې ورسره پلي کړي.

د افغانستان په اړه د دغو اړیکو بل مثبت اړخ دا ده چې کله د ایران او هند اړیکې نږدې کېږي، نو هند به په چابهار بندر کې هم پانګونه ډېره کړي او دغه پانګونه پر افغانستان مثبتې اغېزې لري ځکه افغانستان هم د چابهار پروژې برخه ده او له دغې پانګونې مستفید کېږي.

## پایله

هند د سړې جګړې پرمهال د شوروي اتحاد نږدې متحده او ملګری و او له تاریخي اړخه پاکستان د متحده ایالاتو او هند د روسي ملګری پاتې شوی دی. هندیانو اوس هم په دې باور دي چې متحده ایالات د دوی باوري ملګری نه دی له همدې امله له روسیې سره اړیکې نه پرې کوي او سره د نړیوالو بندیزونو له روسیې څخه په لوړه کچه تیل پېري. تراوسه پورې له روسیې څخه د تېلو پېرلو په اړه متحده ایالاتو ځکه غبرګون نه ښوده چې په سیمه کې د چین په خلاف هند د متحده ایالاتو نږدې متحد و او ویره ورسره موجوده وه چې هسې نه د دغې قضیې د مطرح کولو له امله دغه متحد له لاسه ورنکړي، خو ټرمپ جرات وکړ او پر هند یې تعرفه لوړه کړه، هند هم جدي غبرګون وښوده او وویل چې د دوی د ملي ګټو غوښتنه دا ده چې له روسیې تیل وپېري او دوی به هیڅکله له روسیې څخه د تېلو پېرل بند نه کړي.

د هند او متحده ایالاتو خرابې اړیکې په سیمه کې پاکستان ته ګټه رسوي، ځکه څومره چې هند او متحده ایالات سره لرې کېږي په هماغه کچه پاکستان او متحده ایالات سره نږدې کېږي، خو متحده ایالات به په سیمه کې د چین په خلاف خپل یو ستر متحد یعنې هند له لاسه ورکړي، په سیمه کې ایران، چین، روسیې او افغانستان ته ښه فرصت دی تر څو د هند په څېر یو قدرت سره اړیکې نږدې کړي او خپل بلاک ته یې راکش کړي.

## سرچینې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[1] Waseem Ishaque, Aman Ullah and Fazal Noman. "United States Foreign Policy Towards South Asia; Analyzing Implications for Pakistan", Global Political Review, V(II), 2020, P. 26, Access link: https://doi.org/10.31703/gpr.2020(V-III).03

[2] Muhammad Muzaffar, Erum Hanif and Imran Khan. "United States Foreign Policy towards South Asia: A Critical Analysis", Pakistan Social Sciences Review Vol. 2, No. 2, P. 60, December 2018, Access link: https://www.researchgate.net/publication/342411504_United_States_Foreign_Policy_towards_South_Asia_A_Critical_Analysis

[3] Rosa de Acosta. “What you need to know about US-India trade, in 4 charts”, CNN, February 13, 2025, Access link: https://edition.cnn.com/2025/02/11/business/india-us-trade-explainer-intl-hnk-dg

[4] The USA Leaders. “ndia vs US Tariff War 2025: Trump and Modi on Roast Mode! Who’s Impacted?”, August 07, 2025, Access link: https://theusaleaders.com/news/india-vs-us-tariff-war/

[5] The Economic Times. “India-Russia trade hits USD 66bn in 2024; target of USD 100bn by 2030 on track: Russian envoy”, Nov 27, 2024, Access link: https://economictimes.indiatimes.com/news/economy/foreign-trade/india-russia-trade-hits-usd-66bn-in-2024-target-of-usd-100bn-by-2030-on-track-russian-envoy/articleshow/115734758.cms

[6] Arpan Rai. “Explained: How much Russian oil does India buy?”, Independent, 07 August 2025, Access link: https://www.independent.co.uk/asia/india/trump-india-tariffs-russia-oil-ukraine-war-b2803509.html#:~:text=According%20to%20trade%20data%20shared%20with%20Reuters%2C%20India,up%201%20per%20cent%20from%20one%20year%20ago.

[7] Ibid.

[8] Sonu Vivek. “From ally to 'dead economy': Timeline of Trump's tariff turn on India”, India Today, Aug 7, 2025, Access link: https://www.indiatoday.in/business/story/trump-tariff-news-us-trade-war-timeline-pm-modi-india-response-ally-dead-economy-2767728-2025-08-07

[9] Orange Wang and Dewey Sim. “Indian Prime Minister Modi ‘set for first China trip in 7 years’ amid Trump tariff row”, South China Morning Post, 7 Aug 2025, Access link: https://www.scmp.com/news/china/diplomacy/article/3321120/indian-prime-minister-modi-set-first-china-trip-7-years-amid-trump-tariff-row

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سايت: www.csrsaf.org

CSRS

+93780618000

شمېره: +93780618000